مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید
۲۰۲۴/۰۹/۲۷

# په ړوند تقلید اخته ولس،

## او خپل چاري سیاستوال

افغان ولس له څو لسیزو راهیسي په مکرره توګه د واک، ځواک او ثروت د مجنونانو لخوا په وړ وړ شعارونو وغولول شو. د ولس په غولولو کي کله د هیواد پالني له شعار څخه، کله د اسلامي نظام له دعوو او کله هم د دیموکراسي له نعرو څخه ابزاري ګټه پورته کړای شوه. البته هیواد هغو مشرانو زیات لوټ کړ چي د دین کارت یي د سیاست په مارکیټونو او د دیموکراسي په نیرنګونو کي استعمال کړ.

که په افغانستان کي سوسیالیزم په ګوندو شو، نو د خلق او پرچم ګوندونو مشران بدنام شول، خو د خلکو لخوا یي ناکامی او بدنامي ولمانځل شوه. که دیموکراسي ماته شوه، نو زموږ بلا یي ورپسي. د بن د تړون نوښتګر سپک شول او د هغو سیاسي سوداګرو سرونه ښکته شول چي د جهاد او خپل تاتوبي په سر یي معاملي وکړې او هیواد ته د پردیو ځواکونو په اوږو سپاره راغلل. هغه د لویدیځ په کلتوري اړخونو کي نغښتي دیموکراسي په افغانستان کي د منلو او زغملو وړ نه هم وه.

البته که اسلامي نظام او اسلامي ارزښتونه د شخصي او ډله ییزو ګټو لپاره کارول کیږي، د واک ترلاسه کولو او یا هم په واک کي د پاتي کېدو لپاره ورڅخه ګټه پورته کیږي، د اسلامي نظام تر نوم لاندي اتوکراتیک (استبدادي) نظام رامنځته کیږي او بالاخره په غیر مستقیم ډول سیکولریزم ته لاره هواریږي، نو د افغانستان په شان له دین سره په ژور ډول تړون درلودونکي هیواد کي خو به یي اغیزي او غبرګون حتماً بوړنوونکي وي.

اوس په افغانستان کي په فزیکي توګه امنیتي وضعیت د ډاډ وړ دی، خو نفسیاتي امن تالا ترغه دی. له سیمي سره د سوداګریزو اړیکو رغول او پراخوالي حوصله بښونکی دی، خو په ولس کي د محرومیت او په ځوان نسل کي د ناهیلي توب کچه له تصور څخه ورهاخوا لوړه ده. د بیا رغوني چاري په نسبي ډول ښي رواني دي، خو ورځ تربلي د ولس ویجاړیدونکی اقتصادي حالت د زغم وړ نه دی. د قوشتیپي پروژه د خوښیو پیغامونه لري او په لویو لارو باندي د کار جریان هیله بښونکی دی.

البته د انجونو په زده کړو باندي بندیز عادي ستونځه نه ده او نه هم لکه د ځینو چاراواکو په آند د دغه بندیز له منځه وړل یوازي د بهرنیانو ناروا غوښتنه ده، بلکي هغه ستره نیمګړتیا ده چي له هیڅ ډول مشروعیت او توجیه پرته په افغان ولس د توپک په زور تحمیل شوي او د موجوده حکومت ټول مثبت اړخونه په مطلق ډول تر سیوري لاندي نیسي. د خپل ولس د نارضایتي او د واټن رامنځته کیدو لامل ګرزي ، د هیواد دښمنانو ته د تبلیغاتو فرصت په لاس ورکوي او د ولس په زړونو کي راټوکیدونکي د هیلو هره غوټۍ رژوي.

د دایمي امنیت، پیاوړی مرکزي قیادت، قرباني ته د تیار امنیتي ځواک درلودلو له مثبتو اړخونو او نورو خورا زیاتو فرصتونو سره سره په حکومتی جوړښت، ولسي ملاتړ او د حکومتولي د بنې په برخه کي متأسفانه نیمګړتیاوې شتون لري، د فساد او نورو ناخوالو په وړاندي امارتي غبرګون قناعت بښونکی نه دی. له دي څخه ورهاخوا د اساسي قانون د نشتون او د حکومت په چلولو کي د چاراواکو متفاوت سلیقوي چلن په ځینو مواردو کي په استبدادیت باندي اوړي. که د ولس او هیواد ګټو ته د ژمنو ځینو پاکو مشرانو ښه سلیقه او دروند چلن نه وای، نو ممکن اوس حالات ډیر بدل وای.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

د نيکمرغه ټولنو د پرمختګونو په بهير کې په نُدرت سره د داسې پېښو بيلګې موندل کېږي  چې د ولس په درد دردمند اود ملت په غم غمجن مشران د معجزې په ډول راپورته شوي، خپل ويده ولسونه يې را پاڅولي وي او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره يې د مدني حرکتونو په چوکاټ کې منظم کړي وي.

البته معمول دادی چې ويده ولسونه، ناوړه پېښو، پرديو تيريو، د خپلو حاکمانو وحشتونو او د زمانې جبر راويښ کړي دي او د ستونځو له ګرداب څخه د راوتلو لپاره يې  ځواب ويونکي مشران رامنځته کړي دي. په نږدې ماضي کې موږ په بنګله دېش کې ددغه شان ستر تحول شاهدان يو، خو موږ لاهم ځوک اسماني معجزو ته په تمه ناست يو او ځوک د امريکا رحم او کرم ته سترګې په لاره يو چې راشي او زموږ د مخمسې حالت ته د پای ټکی کېږدي.

په ټولنه کې د زده کړو د کچې د ښکته والي له امله موږ د خپلواکي او  غلامي ترمنځ د توپير پېژندلو په ګډون د مشرتابه  په لټون کې هم ناکام يو. لاهم د ځواب ويونکي مشرتابه د رامنځته کولو پرځای د توپک په زور رامنځته شوې او يا هم له بهر څخه په پيراشوټي توګه را ديسانت شوي مشران را باندې حاکمان وي. په ړوند تقليد پسې روان يو، په خوبونو باندې باور لرو، لوږه، ستونځې او بدبختي په تقدير ور اړوو او په وړاندې يې چوپ پاتې کيدل صبر او نيکي ګڼو. په دکيانوسي باورونو کې نښتي، پرديو خيراتونو ته ناست او له نړيوالې ټولنې سره د سيالي کولو وړتيا مو له لاسه ورکړي ده.

که مو کله هم د خپل ملي ويښتابه کچه دومره لوړه کړه چې مشرانو ته مو د د اساسي قانون له مخې واکونو او مسئوليتونو ترمنځ انډول رامنځته کړ او بيا مو له واکمنانو سره د احتساب معيارونه  هغې کچې ته ورسول چې د ولسي ملاتړ ګراف د هغوی په يوه کړنه باندې ښکته او پورته کيده، که مو کله هم په ټولنه کې د توپک په زور د واک ترلاسه کولو دود منفور عمل بلل کيده، نو پوه شئ چې د واک وړې او د جېبونو ډکوونکې سياستوال را باندې حکومت نشي کولای، د استبداد مخه مو نيولې ده،  د خپلواکي او پرمختګونو په وړاندې مو هيڅ دښمن خنډونه نشي اچولای ،ځکه چې ملت ويښ دی، مشران د احتساب په کټاره کې درېږي او د فساد مخنيوی شوی دی.

البته که لکه د اوس په څېر پاشلی ولس او په ړوند تقليد عادت ملت يو، له مشرانو څخه حساب نه غواړو، په تشو تشريفاتي القابو باندې يې نازو، امرونه يې له پوښتنې پرته په پټو سترګو منل لازم ګڼو، د مشرانو په سليقو او تګلارو باندې نقد ناروا کړنه ګڼو، د خپلو حقونو غوښتل له نظام سره د دښمنې په مفهوم اخلو، نو د توپک له خولې څخه راوتلی حاکمان را باندې مسلط او ويده ولس به د ښه او بد ترمنځ له تفکيک پرته د ړوند تقليد له مخې ورپسې روان وی. هېواد به د خپلو او پرديو لخوا چور او افغانان به څه وخت وروسته لکه د افريقا د ويدو ولسونو په څېر د خپلو او پرديو لخوا لوټ شوي هېواد ته لاس تر زنې ناست وي او هيڅ به هم په لاس نه ورځي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ